Social Science AcademicJournal

لید د ټولنیزو علومو علمي مجله

LSSAJ

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# په اسلامي شریعت کې د جعلي خبرونو حکم

**مفتي نقیب الله خادم الاسلام**

اسلامي ثقافت څانګه، شرعیاتو پوهنځی، میرویس خان نیکه پوهنتون- زابل، افغانستان

د مسؤل بریښنالیك: khademkhadem883@gmail.com

**تر لاسه سوې: ۱۴۰۵/۰۱/۰۹** | **منل سوې:۱۴۰۵/۰۳/۱۲** | **خپره سوې: ۱۴۰۵/۰۶/۳۱** | **د ثبت ګڼه:LSSAJ-3-1-03** | **مخونه:۹۳-۱۱۰**

**لنډیز**

داڅېړنه دجعلي خبرونو دمفهوم، ډولونو، لاملونو، اغیزو اوشرعي حکم په اړه تر سره سوې ده. د څېړني اصلي ستونزه دجعلي خبرونو چټک خپریدنه او پر ټولنه یې منفي اغیزي دي. د څیړني موخه داوه چي دجعلي خبرونو حقیقت روښانه سي ، دهغوی دخپرېدو عوامل وپیژندل سي ، او داسلام له نظره یې حکم بیان سي . دا موضوع له دي سببه مهمه وه چي جعلي خبرونه د ټولنیز بې باورۍ، ګډوډۍ، ګناه، او اخلاقي فساد لامل ګرځي. په دې څېړنه کي دکتابتوني او توصیفي میتود څخه کار اخیستل سوی دی. موندني ښیي چي جعلي خبرونو اکثر دسیاسي، اقتصادي،او عاطفي اهدافو لپاره خپریږي او پر ټولنه ژور منفي اغېز لري. همدارنګه، اسلام د جعلي خبرونو او شائعات خپرول حرام ګرځولي او د تحقیق، احتیاط او مسؤ لیت سپارښتنه کوي، ترڅو د ټولني ثبات او اخلاقي ارزښتونه وساتل سي .

**کلیدي کلمې:** اخلاقي فساد، شرعي حکم ، جعلي خبرونه،حرام، شایعات

# The Islamic Ruling on Fake News

**Mufti Naqibullah Khadim-ul-Islam**

Islamic Culture Department, Faculty of Sharia, Mirwais Khan Nika University, Zabul, Afghanistan

Email: khademkhadem883@gmail.com

**Abstract**

This study examines the concept, types, causes, effects, and Islamic legal ruling of fake news. The main problem addressed by the study is the rapid spread of fake news and its negative effects on society. The study aims to clarify the nature of fake news, identify the factors contributing to its dissemination, and explain its ruling from the perspective of Islam. The topic is important because fake news can lead to social distrust, disorder, sin, and moral corruption. The study employs a library-based and descriptive research method. The findings indicate that fake news is often disseminated for political, economic, and emotional purposes and has profound negative effects on society. Furthermore, Islam prohibits the dissemination of fake news and rumors and emphasizes verification, caution, and responsibility in dealing with information in order to preserve social stability and moral values.

**Keywords:** Moral Corruption; Islamic Legal Ruling; Fake News; Prohibition; Rumors.

## سریزه

نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ با الله من شرور انفسنا ونصلی علی رسوله الکریم وعلی آله واصحابه اجمعین.وبعد:

داڅېړنه د جعلي خبروونو په اړه تر سره کیږي، جعلي خبرونه هغه ډول خبرونه دي چي قصداً دروغ يا غلط معلومات د واقعيت او پيښو تحريف سوي معلومات خپروي. دا ډول خبرونه د چاپي رسنيو، راډيو، تلويزيون، يا د ټولنيزو شبکو لکه : واټساف، فيسبوک، تويټر او داسي نورو له لاري خپريږي. (بوطمين & جربوعة, 2021، ص ٢٠٨) او دا موضوع ځکه لومړيتوب لري چي په اوسني وخت کي دټولنيزو رسنيو دپراخ استعمال له امله جعلي خبرونه په چټکۍ سره خپريږي، چي دخلګو ترمنځ بې باوري او ګډوډي لامل کيږي. ډير خلګ خبرونه بې له تحقيقه مني او له نورو سره يې شريکوي، چي داکار دحقيقت دپټيدو سبب ګرځي، او دا داسلام مبارک دين له لارښوونو سره سمون نه خوري. الله تعالی فرمايي: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا ( الحجرات:٦) ژباړه: ای هغه کسانو چي تاسو ايمان راوړی، که چيرته راتګ وګړ تاسولره فاسق او بدکاره! په يوه خبره سره، نو تاسو ښه تحقيق پکښبي وکړئ. او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايې: وإن الكذب يهدي إلى الفجور، وإن الفجور يهدي إلى النار، وإن الرجل ليكذب حتى يكتب عند الله كذّاباً ( بخاري، ١۴۴۴، ج۵ ص ٢٢٦١) يعني له دروغو ځان وساتئ، ځکه دروغ انسان بدکاری ته وړي، او بدکاري انسان اورته رسوي، نو لهذا څوک چي جعلي خبرونه نشروي او يايې جوړوي دا په فردي او ټولنيز توګه بدي پايلي لري او داسلام مبارک دين له نظره دايو خطر ناک کار دی ځکه چي دغه يو داسي مسلسل ګناه ده چي نه ختم کيدونکي ده حتي دا داسي يو ګناه کيدی سي چي دمرګ بعد هم جريان پيدا کړي خاصکر کله چي په دي کي ديو مسلمان توهين او يا بي عزتي، بهتان او افتراء سوي وي، اوحال دا چي ځيني ځوانان د جعلي خبرونو د خپرولو پر وړاندي هيڅ ډول احساس مسؤوليت نه لري ، اونه دي ته پام کوي چي دوی د داسي عمل له لاري کومه ګناه کي واقع کيږي. په دي ليکنه کي دجعلي خبرونو حقيقت، ډولونه، اغيزي، او شرعي حکم يې په منظم ډول به وڅيړل سي .

**دڅېړني ارزښت**

د جعلي خبرونو موضوع نن سبا ډېر مهمه ده، ځکه چي ناسم خبرونه د خلګو تر منځ بې باوري، ګډوډي او اختلاف پيداکوي. کله چي غلط معلومات خپاره سي خلګ باندي باور کوي او ناسمي پريکړي کوي، چي دا د ټولني ته زيان رسوي. ځيني وختونه دا خبرونه دخلګو ترمنځ دښمني او شخړي هم پيداکوي او ديوچا عزت ته تاوان رسوي. داسلام مبارک دين له دروغو او افواه خپرولو څخه په کلکه منع کړي ده او دخبرونو په هکله يې دتحقيق سپارښتنه کړي ده. الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّمَا يَفْتَرِي الْكَذِبَ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ﴾ (النحل: ١٠۵) ژباړه: درواغ هغه کسان جوړه وي چي ايمان نه لري. اوفرمايي: {مَا يَلْفِظُ مِنْ قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ} ژباړه : انسان هره خبره کوي، ليکل کيږي او ثبتيږي. او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايې: من كان يؤمن بالله واليوم الآخر فليقل خيرا أو ليصمت" رواه البخاري ومسلم. ژباړه: څوک چي پر الله او آخرت ايمان لري، بايد يا ښه خبره وکړي يا چوپ پاته

سي . نوله دي امله دجعلي خبرونو دزيان په اړه معلومات او عامه پوهاوی ورکول ډير مهم دی، دا څېړني سره به معلومه سي چي داسي خبرونه جوړول يا نشرول يوه لويه ګناه ده.

## د څېړني ستونزه

په نني زمان کي د انټرنيټ او ټولنيزو رسنيو له امله جعلي خبرونه په ډير سرعت سره د خلګو ترمنځ خپريږي. چي ډير ځله د خلګو ترمنځ يې شخړي پيدا کړي، او دخلګو ترمنځ بې باوري او يو په بل باندي شک کول ايجاد وي، او په ټولنه ،اقتصاد، امنيت، او سياست باندي منفي اغيزي کوي. داسلام مبارک دين د دروغو او بې دتحقيق خبرو خپرول ښه نه ګڼي او لارښوونه کوي چي د هري خبري تحقيق وکړئ او بيا پري باور وکړي خو بيا هم د ټولنيزو رسنيو ګڼ کار کوونکي دغه لارښوني په عملي توګه نه مرعاتوي او عمل نه پري کوي. له بلي خوا، د موجودو علمي څېړني ډيره برخه د جعلي خبرونو سياسي، ټولنيز او رسنيز اړخ څېړي خو د اسلامي شريعت له نظره د جعلي خبرونو د حکم، دلايلو او استثنايي مواضعو په اړه، په خاصکر ډول په پښتو ژبه، هر اړخيزه علمي څېړنه نه تر سترګو کيږي همدې علمي تسي او دموضوع د علمي اهميت له امله دا څيړنه ترسره سوې، تر څو د جعلي خبرونو شرعي حکم، اغيزي او دمخنيوي لاري د اسلامي سرچينو په رڼا کي روښانه کړي.

## د څېړني موخي

۱.دا معلومول چي جعلي خبرونه څه شی دي او تعريف يې څه دی.
۲. د اسلام له نظره دجعلي او دروغو خبرونو حکم بيانول.
۳. د اسلام دلارښوونو له مخي دجعلي خبرونو د مخنيوي لاري چاري وړاندي کول.
۴. دا واضح کول چي په کومو خاصو حالاتو کي دجعلي خبرونه خپرول ممکن استثنا وي لکه جهاد.

## دڅيړني پوښتني

۱.جعلي خبرونه څه دي او مطلب يې څه دی؟
۲. جعلي خبرونه کوم ډولونه لري ؟
۳. دجعلي خبرونو دزر خپريدو لاملونه څه دي؟
۴. په قرآن کي او حديث کي دروغوويلو په اړه څه ويل سوي دي؟

## د څېړني شاليد (پخوانۍ څېړني)

د جعلي خبرونو، شايعاتو او ناسمو معلوماتو موضوع په اوسنۍ نړۍ کي د رسنيو، او ټولنيزو شبکو د ډير والي سره ډيره مهمه سوې ده. پخوا به خبرونو خپريدل تر راډيو يې رسنۍ پوري محدود وو، خو په نني عصرکي ، ټولنيزو شبکو، او دځيرک مبايلونو دپراخ استعمال له امله هرڅوک د خبر د نشر کولو توان لري. همدا تغيرات ددي سبب سوي ،چي جعلي خبرونه په عامه توګه خپارسي او په په ټولنه باندي منفي اغيزي پريباسي. دجعلي خبرونو په اړه ګڼو معاصرو څېړنو د دوی د مفهوم ، ډولونه، لاملونه، او اغيزو بيلابيل اړخونه څيړلي دي، چي ځيني يي دادي: لومړی: (سلمان، ۲۰۲۲) پخپله څيړنه

لیکي چې جعلي خبرونه یوازې ناسم معلومات نه دي، بلکې دعامو اذهانو په غلط جوړښت، د اجتماعي دریځونو په تغیر او د خلکو په ذهني تمایلاتو پر غلط رهبري کولو مستقیم اغیز لري. دوهم: (بوطمین او جربوعة، ۲۰۲۱) هم په خپلې څېړنه کې وایې چې جعلي خبرونه په اجتماعي حرکاتو او په سیاسي تغیراتو پر مهال دخلکو پر اذهانو او سلوک اغیزه کوي، او دخلکو تر منځ اختلاف، بې اعتمادي او ګډو ډې را منځ ته کوي. درېیم: (Ma Noel Riyas Maldonado، ۲۰۱۹) د ټکنالوژۍ اغېزې څېړلي او دا ویلي چې ډیجیټلي وسایل او ټولنیزې شبکې د جعلي خبرونو دچټک خپریدو اساسي وسیله ګرځیدلې ده. څلورم: (قاتلیة، ستي، & رمضاني، 2022، ص۳۵) په خپله څېړنه کې جعلي خبرونه په پنځو ډولونو باندې ویېشلي دي، لکه: بشپړ جعلي محتوا، طنزي محتوا، ناسم تړاو، ناسم سیاق، او فریب ورکوونکي محتوی. دوی همدارنګه د جعلي خبرونو مهمې ځانګړنې یادې کړې دي، لکه د ناسمو معلوماتو شتون، چټک انتشار، بې له تحقیقه خپریدل او د ټیکنالوژۍ اسانه کارونه. پنځم: (الحربي، ۲۰۲۱، ص ۱۱) په خپله څېړنه کې هغه څلور عوامل په ګوته کړي دي کوم چې له جعلي خبرونو سره په خپریدلو کې مرسته کوي: لکه سیاسي عوامل، اقتصادي عوامل، عاطفي عوامل، ټکنالوژۍ عوامل. شپږم: (مکاوي، ۲۰۲۰،ص ۲۷۳، ۲۷۴) د جعلي خبرونه داغیزو په اړه وایې: چې دا ټولنیزې، مالي اوروانې بدې اغیزې لري. اووم: ( . السقاف، ب، ت، ج۲ ص ۱۲۲) داسلامي شرعت له نګاه څخه ویلي : د یو مسلمان توهین کول ، بهتان یا افتراء او یا غیبت کول چې داټولې ګناه کبیره دي، او جعلي خبرونه له دغو یاده شوو ګناهونه څخه خالي نه دي. اتم: داچې جعلي خبرونه دروغ وي او د دروغو ویلو په اړه ( القحطاني ،۱۴۳۰، ص۴۵) ویلي چې امام نوی رحمه الله فرمایې: دروغ ویل په قران ، حدیث اوپه اجماع دأمت سره حرام دي. نهم: ( الزیدي، ۲۰۱۰، ص ۶۷) په جهادي حالاتو کې د شائعاتو (جعلي خبرونو) خپرولو صورت استثناء کړی دی، یعني جواز یې ورکړی دی.
لسم: (أحمد نوفل، ۱۹۸۷، ص۵۰) ویلي: چې د احزاب په غزا کې د افواه خپرولو کار د مسلمانانو له لوري یو ډېر مهم رول ادا کړ، او د دې څرګنده بېلګه د نعیم بن مسعود رضی الله عنه په خبرو او چلند کې لیدل کیدای سي .

سره له دې چې دجعلي خبرونو اړوند ګڼې څېړنې تر سره سوې دي، چې پکې دجعلي خبرونو مفهوم، ډولونه، لاملونه، او اغیزو بیلا بیل اړخونه څېړل سوي دي، خو په پای کې د دغو څېړنو تشه داده چې ډیري پخوانیو څېړنو د جعلي خبرونو د ټولنیزو، سیاسي، او رسنیزو اغیزو په اړه بحث کړی، او ځینو یې دشرعي اړخ ځیني خبري هم کړې دي. خو د جعلي خبرونو د شرعي حکم، د هغه دلایلو، استثنایي حالاتو او د مخنیوي لارو په اړه، په ځانګړي ډول په پښتو، ژبه کې لا تر اوسه بشپړه او جلا څېړنه نه ده شوي. له همدي امله، د دې تسې ډکولو لپاره په دې څېړنه کې هڅه سوې چې دا موضوع د اسلامي شریعت په رڼا کې په ساده او هر اړخیز ډول و څېړل سي .

**مواد او کړنلاره**

داخېړنه کتابتوني، توصیفي او تحلیلي ده دموضوع اړوند معلومات له کتاب الله ، تفسیرونو، نبوي احادیثو، دسیرت نبوي، او دفقهي کتابونو په ګډون شاوو خوا ( ۳۰ ) مهمې څېړنیزې مقالې راټولې او دڅېړنې لپاره انتخاب شوي، د سرچینو په انتخاب کې هغو کتابونو او مقالو ته ترجیح ورکړل سوې چې له موضوع سره یې مستقیم تړاو درلود او د دیني سرچینو له جملې څخه معتبر او دامت له لوري منل سوي آثار غوره سوي دي. له معلوماتو را ټولولو وروسته، مطالب سره پرتله او تحلیل سوي دي، ترڅو د جعلي خبرونو مفهوم، د خپریدو لاملونه، اغیزې، شرعي حکم او استثنايي حالات په روښانه ډول بیان سي . ځکه چې دا کتابتوني څېړنه ده، نو مرکه پوښتنلیك او مشاهده پکې نه ده کارول شوې. د څېړنې سرچینې: په دې څېړنه کې له قرآن کریم، صحیح البخاري، جامع الترمذي، سنن أبي داود، او د تفاسیرو او فقهي کتابونو اوهمدارنګه له معاصرو علمي مقالو څخه استفاده سوې ده. اخلاقي ملاحظات: په دې څېړنه کې د علمي امانت اصل مراعات سوی ، ټولې حوالې په خپل اصلي ځای کې ذکر سوې او دنقل شوو مطالبو سرچینې ښودل سوي دي.

**نتیجه او مناقشه**

**لومړی. د جعلي خبرونو پیدایښت**

لومړی دروغجن خبر زموږ له پلار حضرت آدم (علیه السلام) او زموږ له مور حضرت حوا سره پېښ شو، کله چې شیطان هغوی ته وسوسه وکړه، لکه څنګه چې څښتن تعالی فرمایي: فَوَسْوَسَ لَهُمَا ٱلشَّيْطَـٰنُ لِيُبْدِىَ لَهُمَا مَا وُۥرِىَ عَنْهُمَا مِن سَوْءَٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهَىٰكُمَا رَبُّكُمَا عَنْ هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةِ إِلَّآ أَن تَكُونَا مَلَكَيْنِ أَوْ تَكُونَا مِنَ ٱلْخَـٰلِدِينَ) سورة اعراف (۱۹) ژباړه: بیا سي طان هغوی تېر ایستل، تر څو چې د هغوی شرم ځایونه چې یو له بله پټ کړای سوي ول، د هغوی په وړاندې بربنډ سي . هغو ته (ابلیس) وویل: "ستاسي رب چې تاسي له دې ونې څخه منع کړي یاست، ددې باعث له دې پرته نور څه نه دی چې چیري تاسي پرښتې نه سئ ، یا تاسي ته د تل لپاره ژوند درپه برخه نه سي .".

(وَقَاسَمَهُمَآ إِنِّى لَكُمَا لَمِنَ ٱلنَّـٰصِحِينَ) سورة اعراف (۲۱) ژباړه: او هغه په لوړه (قسم) کولو هغوی ته وویل چې زه ستاسي ربښتینی خیر غوښتونکی یم. ( فَدَلَّىٰهُمَا بِغُرُورٍ فَلَمَّا ذَاقَا ٱلشَّجَرَةَ بَدَتْ لَهُمَا سَوْءَٰتُهُمَا وَطَفِقَا يَخْصِفَانِ عَلَيْهِمَا مِن وَرَقِ ٱلْجَنَّةِ ۖ وَنَادَىٰهُمَا رَبُّهُمَآ أَلَمْ أَنْهَكُمَا عَن تِلْكُمَا ٱلشَّجَرَةِ وَأَقُل لَّكُمَآ إِنَّ ٱلشَّيْطَـٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِينٌ) سورة اعراف ( ۲۲)

پدې توګه یې په غولولو سره هغه دواړه کرار کرار خپلې لارې ته راواړول. په پای کښې چې کله هغوی د هغې ونې خوند وڅکه، نو د یو بل په وړاندې یې ستر مات سو او هغوی د جنت په پاڼو سره د خپلو بدنونو په پټولو لاس پوري کړ. په دې وخت کښې د هغو رب ورته غږ وکړ: "ایا ما تاسي له دې ونې څخه نه واست منع کړي او درته ویلي مي نه وه چې سي طان ستاسي ښکاره دښمن دی؟"

نو، شیطان آدم ته د یو نصیحت کوونکي په بڼه ورغی، او په خبرو کې ورسره نرمي وکړه، نو آدم د هغه په خبرو وغولېد او له ونې یې وخوړل، بیا دواړه حیران پاتې شول، جامې یې ترې ولوېدې، او د دوی نافرماني ښکاره شوه. همدارنګه، قرآن کریم موږ ته د پیغمبرانو او رسولانو کیسې راښیي، چې څنګه د خپلو قومونو مشرانو هغوی په بېلابېلو دروغجنو خبرونو تورن کړل، د دې لپاره چې د هغوی رسالت دروغ ثابت کړي او خلک له هغوی څخه لیرې وساتي، تر څو خپله واکمني او ګټې وساتي. (ابن کثیر، ۱۴۲۰هج، ج ۳ص ۳۹۷ ). نو معلومه شوه، چې د روغ خبر هغه څه دي چې د اول ځل لپاره بشر د غولیدلو لامل سوی دی، او د نعمتو له ستره ځای را ایستل سوی دی. اودتکلیفونو دنیا ته راکوز سوی دی.

**دوهم: دجعلي خبرونو مفهوم**

دا د هغو دروغو خبرونو مجموعه ده چې په چټک ډول خپرېږي، او عموماً د باور وړ سرچینه نه لري، او کیدای سي سیاسي، ټولنیز، اقتصادي یا نظامي بڼه ولري. دغه خبرونه کیدای سي داسي وي: یو بشپړ جوړ سوی خبر چې هېڅ ریښتینی اساس ونه لري، یا په یو داسي خبر کي چي یو څه ریښتیا لري دروغ معلومات ورزیات سي ، یا داسي خبر تحریف سي چي زیاتره برخه یې سمه وي، یا یو سم خبر په ناسم ډول تفسیر سي او پرې داسي تبصره وسي چي له حقیقت سره برعکس وي؛ او دا ټول د دې لپاره کیږي چي د عامه نظر پر وړاندي منفي رواني اغېز وکړي. (سلمان، ۲۰۲۲، ص. ۳۴۸).

**دریم: د جعلي خبرونو پیژندنه**

د جعلي خبرونو د تعریف او پېژندنې په اړه ګڼ شمیر تعریفونه شوي، چي ځیني یې په لاندي ډول ذکر کوو:

۱.جعلي خبرونه هغه ډول خبرونه دي چي قصداً دروغ یا غلط معلومات خپروي. دا ډول خبرونه د چاپي رسنیو، راډیو، تلویزیون، یا د ټولنیزو شبکو له لاري خپریږي.

۲.جعلي خبرونه د واقعیت او پیښو تحریف کوي ترڅو خلک پرې قانع سي او په دې دروغو باور پیدا کړي، د ځانګړو اهدافو لپاره.

۳.جعلي خبرونه هغه معلومات دي چي د خبرونو په څېر ښکاري، خو رښتیا نه دي. دا ډول خبرونه د تلویزیون، راډیو، ورځپاڼو، یا ټولنیزو شبکو له لاري خپریږي، په جعلي خبرونو کي حقایق یا پیښې بدل سوي وي، او هدف یې دا وي چي خلک پرې قانع سي او په دروغو باور پیدا کړي، د نړۍ په اړه داسي معلومات چي غلط وي یا واقعیت نه ښیي، هم جعلي خبرونه ګڼل کیږي. (بوطمین & جربوعة، 2021، ص ۲۰۸)

۴.همدارنګه داسي هم پیژندل کیږي: فریب ورکوونکي معلومات قصدي خپرول، که دا د دودیزو رسنیو له لاري وي یا د ټولنیزو رسنیو له لاري . (داسه، ۲۰۲۳، ص. ۱۸)

**څلورم: د دروغجنو خبرونو ډولونه**

د دروغجنو خبرونو څو مهم ډولونه دا دي:

۱- طنزي یا ملنډې (پارودیا):په دې ډول کې د خلکو د زیان رسولو نیت نه وي، خو بیا هم کله ناکله خلک دوکه کیږي.

۲- بشپړ جعلي محتوا:دا هغه خبرونه دي چې هېڅ حقیقت نه لري او یوازې د خلکو د دوکه کولو یا بدنامولو لپاره جوړیږي.

۳- ناسم تړاو (غلط ربط):په دې کې یو خبر یا موضوع وړاندې کیږي، خو ورسره داسې انځورونه یا خبرې نښلول کیږي چې له هغه سره هېڅ تړاو نه لري، تر څو خلک ډېر متاثره کړي.

۴- فریب ورکوونکې محتوا:دلته معلومات په داسې ډول کارول کیږي چې خلک غلط درک ترې وکړي، لکه د عکس یوه برخه ښودل یا یوازې ځانګړې خبرې انتخابول.

۵- ناسم سیاق (غلطه زمینه):په دې کې رښتینی خبر اخیستل کیږي، خو له خپل اصلي ځای او حالت څخه جلا کیږي، او بیا په غلط ډول وړاندې کیږي.

۶- د محتوا لاسوهنه (تحریف):دلته اصلي معلومات یا عکسونه وي، خو پکې بدلون راوستل سوی وي تر څو خلک وغولول سي . (قاتلیة, ستي, & رمضاني, 2022، ص۳۵)

**پنځم: د دروغجنو خبرونو ځانګړنې**

د دروغجنو خبرونو ځینې داسې ځانګړنې شته چې هغه له نورو خبرونو څخه جلا کوي، چې مهمې یې په لاندې ډول دي:

۱- ناسم او غیر حقیقي معلومات: دروغجن خبرونه معمولاً ناسم معلومات لري، او کله کله د دې لپاره کارول کیږي چې اصلي حقیقت پټ کړي او د خلکو په ذهن کې یو غلط او خیالي انځور جوړ کړي، تر څو د خپروونکو ګټې خوندي سي .

۲- اسانه خپرېدل او چټک انتشار: دا ډول خبرونه ډېر ژر د خلکو تر منځ خپرېږي، په ځانګړي ډول هغه وخت چې کومه بحراني یا حساسه وضعه وي او خلک د معلوماتو ترلاسه کولو ته ډېر لیواله وي.

۳- بې له پلټنې خپرېدل:خلک زیاتره وخت خبرونه پرته له دې چې د هغوی د رښتینوالي پلټنه وکړي، له یو بل سره شریکوي، چې دا کار د دروغجنو خبرونو د زیاتېدو سبب ګرځي.

۴- د ټکنالوژۍ اسانه کارونه:د موبایلونو، ټابلیټونو او انټرنېټ پراخ استعمال دا اسانه کړې چې خبرونه په چټکۍ او لږ لګښت سره خپاره سي ، چې دا هم د دروغجنو خبرونو په پراختیا کې مهم رول لري. شایعات او جعلي خبرونه هغه معلومات دي چې خلک په قصدي ډول جوړوي، څو نور خلک یې ولولي او پرې پوه سي . د دې لپاره، جوړوونکي جالب سرلیکونه او عکسونه کاروي چې د خلکو پام ځانته راواړوي. کله ناکله دوی عکسونه، ویډیوګانې یا غږونه بدلوي یا جوړوي چې خبر ښکاره صحیح سي .

دا خبرونه اکثره نیمګړي یا رازګونه وي، ترڅو خلک یې د پوهیدو هڅه وکړي او له یوه بل سره یې شریک کړي. ځیني وختونه هم جعلي عبارتونه کاروي، لکه «رسمي خبر»، «له باوري سرچینو» یا «ځانګړی خبر»، څو خلکو ته داسي ښکاره سي چې خبر ریښتینی دی.

شایعات اکثره د نامعلومو خلکو یا جعلي حسابونو څخه خپریږي، نو د دې کنټرول کول او مسؤل پیدا کول سخت وي. کله چې خلک خبر شریکوي، معلومات زیاتوي، کموي یا بدلوي، او هر څوک د خپلې خوښې مطابق څه اضافه یا کموي، په ځانګړي توګه که خبر مبهم وي.

د شایعاتو د خپرېدو لپاره دوه مهم شرطونه دي: لومړی، خبر باید خلکو ته ډېر مهم وي. دوهم، خبر باید لږ راز یا مبهمیت ولري، چې خلک هڅوي د هر ممکنه سرچینې څخه معلومات ترلاسه کړي. . (قاتلیة, ستي, & رمضاني, 2022، ص۳۵)

**پنځم: هغه عوامل چې د جعلي خبرونو خپرېدو سره مرسته کوي**

الف) ټکنالوژیکي عوامل :

ټکنالوژي د جعلي خبرونو جوړولو او خپرولو لپاره ډېر مهمه ده. د ټکنالوژۍ له لاري اوس دا کار ډېر اسانه او ارزانه سوی دی. ځیني روبوټونه هم شته چې د خلکو له لاسه پرته، په اتومات ډول جعلي خبرونه خپروي. دا روبوټونه ځانګړي هدفونه لري او له مخکي ورته پروګرام سوي وي.همدارنګه ځیني پټې بازارونه او کمپاینونه شته چې د عامه خلکو نظر بدلوي، او دا ټول د ټکنالوژۍ او روبوټونو له لاري کیږي. د مثال په توګه، په تویټر کي شاوخوا ۹ تر ۱۵ سلنه حسابونه روبوټونه دي، او په فېسبوک کي شاوخوا ۶۰ میلیونه روبوټونه خبرونه خپروي. څېړونکي هم د میلیونو پیغامونو په تحلیل سره دا ډول فعالیتونه مطالعه کړي دي. د ۲۰۱۶ کال د امریکا د ټاکنو پر مهال څېړنو وښودله چې روبوټونه په ریښتیا د جعلي خبرونو په خپرولو کي مهم رول لري. ډیجیټل ټکنالوژي خلکو ته دا آسانه کړه چې جعلي خبرونه چټک او په بېلابېلو لارو خپاره او شریک کړي. مخکي له دې چې خلک انټرنیټ ته لاسرسی ولري، دا کار دومره آسان نه و. له دې ټولو څخه موږ دا نتیجه اخلو چې ټکنالوژي او ډیجیټل پروسې په جوړولو، خپرولو او د خلکو ترمنځ د جعلي خبرونو د شریکولو په برخه کي ډېر لوی تاثیر لري.( مانوئل آریاس مالدونادو، ۲۰۱۹، ص ۳۸۵)

**ب) اقتصادي عوامل:**

ټول جعلي خبرونه یوازې سیاسي هدف نه لري، ځیني یې د پیسو ګټلو لپاره هم جوړیږي. ځیني ویب سایټونه د خلکو د پام ځانته راجلبولو لپاره جوړ سوي او د "click bait" ستراتیژي کاروي، یعنې داسي سرلیکونه او منځپانګه وړاندي کوي چې خلک پرې کلیک وکړي او وګوري. دا کار د رسنیو د اصولو سره سمون لري، ځکه رسنۍ تل هڅه کوي چې خلک د نوي او جالبو شیانو سره بوخت وساتي.همدارنګه، د ډیجیټل ټکنالوژۍ له امله اوس د ویب سایټ جوړول او له منځپانګي یې پیسې

گټل آسانه شوي، په ځانګړي توګه د اعلانونو له لارې . خو بیا هم د جعلي خبرونو په دې ډگر کې اغېز لا هم روښانه نه دی.

**ج ) عاطفي اغیزي**

د جعلي خبرونو خپرونکي غواړي خلک د خپلو خبرونو په اړه احساساتي سي . هغوی پوهېږي چې خلک کله وخت په احساساتو پرېکړه کوي او په فکر کولو ورو تصمیم نیسي. خلک خوشحاله کیږي او ځان ارام احساسوي کله چې څه خبر د دوی د نظرونو او باورونو سره برابر وي.

ځیني وختونه، خلک جعلي خبرونه ریښتیني گڼي ځکه چې دا د دوی د نړۍ لید او باورونو سره سمون لري. له همدې امله، جعلي خبرونه په انټرنېټ کې ډېر ژر خپریږي، ځکه خلک یې خوښوي او له نورو سره یې شریکوي. مانوئل آریاس مالدونادو، ۲۰۱۹، ص ۵۴۰)

**د) سیاسي عوامل**

جعلي خبرونه ډېر وخت په ټولنیزو رسنیو کې خپریږي او خلک یې ډېر گوري. دا خبرونه پر خلکو او ټولنې قوي اغېز لري، هغه اوازې چې په پوځي، او امنیتي برخو کې کارول کیږي. د دې هدف د وسله‌والو ځواکونو روحیه ماتول او د دوی هوډ او باور کمول دي، څو د خپل وطن د دفاع هڅه کمه سي . همدارنګه د ملي مسایلو ارزښت کم ښکاره کوي او ښیي چې دوی خپلې دندې لکه څنګه چې باید ترسره کړي، نه سي کولای. په پایله کې، جعلي خبرونه د خلکو او حکومت ترمنځ واټن او بې اتفاقي ژوره کوي. (الحربي، ۲۰۲۱، ص ۱۱)

**شپږم : د جعلي خبرونو اغېزي**

د هغو څېړنو او مطالعاتو له مخې چې د جعلي خبرونو د اغېزو په اړه سوې دي، دا اغېزي په لاندې ډول لنډېدلای شو.

۱.ټولنیز اغېز:جعلي خبرونه یوازې خلک نه خطا کوي، بلکې پر ټولنې او اقتصاد هم بد اغېز لري.کله چې دا خبرونه په ټولنیزو رسنیو کې خپریږي، د خلکو ترمنځ ګډوډي او بې‌باوري پیدا کوي. خلک نه پوهېږي چې کوم خبر سم دی او کوم ناسم، نو مجبور سي چې د اصلي او رسمي معلوماتو لټون وکړي. دا حالت د خلکو ترمنځ مینه، یووالی او ورورولي کمزورې کوي.

۲. مالي اغېز: همدارنګه، جعلي خبرونه په مالي برخه کې هم زیان رسوي.کله ناکله د شرکتونو په اړه غلط معلومات خپریږي، چې د هغوی اعتبار ته زیان رسوي. د دې له امله د شرکتونو د سهمونو بیې راټیټېږي او اقتصاد ته تاوان رسیږي.

۳. رواني اغېز:کله چې خلکو ته ډېر خبرونه ورسیږي، هغوی ځیني وخت مغشوش کیږي او ژر پرې باور کوي. خلک اکثره په احساساتو پرېکړه کوي او پرته له دې چې خبر سم دی که نه، هغه له نورو سره شریکوي.

که یو خبر څو ځله تکرار سي ، خلك فکر کوي چې دا به خامخا سم وي، حتی که رښتیا نه وي. همدارنگه، دا ډول خبرونه ورو ورو د خلکو ذهن ته ننوځي او د هغوی په فکر اغېز کوي، پرته له دې چې دوی پرې پوه سي .

له همدې امله، جعلي خبرونه ډېر ژر د خلکو ترمنځ خپرېږي. (مکاوي، ۲۰۲۰،ص ۲۷۳، ۲۷۴)

**شائعات( اوازې ) خپرولو حکم**

**اول یې تعریف:** دا هغه ډول خبر خپرول دي چې رښتیا نه وي، یا یوازې لږه برخه یې رښتیا وي، یا زیات کړل سوی وي، یا د حقایقو خلاف یې تشریح او تبصره سوې وي. هدف یې د خلکو فکرونه او احساسات اغېزمنول دي، تر څو سیاسي، اقتصادي یا نظامي گټې ترلاسه کړي. دا کولی سي په یوه هېواد، څو هېوادونو یا حتی په نړیواله کچه ترسره سي . (حربي، ۲۰۱۹، ص۷)

**دشائعاتو(افواه وو) خپرولو حکم**

اسلام د درواغو اوازو خپرول او ترویج کول حرام کړي دي، او څوك چې دا کار کوي، هغه ته یې په دنیا او آخرت کې د سخت عذاب وعید دی الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُحِبُّونَ أَنْ تَشِيعَ الْفَاحِشَةُ فِي الَّذِينَ آمَنُوا لَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ وَاللهُ يَعْلَمُ وَأَنْتُمْ لَا تَعْلَمُونَ﴾ [النور: 19] ژباړه: بیشکه هغه کسان چې خوښوي دغه (خبره) چې خوره سي فاحشه بدنامي په حق د هغه کسانو چې ایمان یې راوړی دی شته دغو کسانوته عذاب در دناك په دنیا کښې آو په اخرت کښې او الله ښه عالم دی او تاسي نه پو هیږئ. دا آیت د حضرت عایشه رضي الله عنها په اړه د افك پېښې سبب نازل سوی و، چې پکي منافقینو دروغ خپاره کړل. امام البیضاوي وایي چې څوك غواړي یا خوښوي چې بدکارۍ او بې حیایي د مؤمنانو ترمنځ خپره سي ، دوی ته په دنیا کې د شرعي حدونو په شان او په آخرت کې د اور عذاب ټاکل سوی دی. الله د زړونو نیتونه پېژني، خو انسانان نه پوهیږي. نو ظاهري کړنې د خلکو له خوا مجازات کیږي، خو د زړه پټ نیتونه هم د الله لخوا سزا لري. دا وعید هغو کسانو ته دی چې یوازې د فاحشې خپرېدو خوښي لري؛ نو هغه څوك چې په عمل کې یې عملي کوي، سزا یې لا سخت **ده.** ( البیضاوي، ب ت، ج۱ص ۱۰۲)

الله تعالی د شایعاتو خپرول "ارجاف" بللي دي، او له همدې (ارجاف) څخه دروغ او باطل خبري خپرول هم شامل دي، هغه خبري چې په ټولنه کې وېره او ډار رامنځته کوي. الله تعالی فرمایي: ﴿لَئِنْ لَمْ يَنْتَهِ الْمُنَافِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ وَالْمُرْجِفُونَ فِي الْمَدِينَةِ لَنُغْرِيَنَّكَ بِهِمْ ثُمَّ لَا يُجَاوِرُونَكَ فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا ۝ مَلْعُونِينَ أَيْنَمَا ثُقِفُوا أُخِذُوا وَقُتِّلُوا تَقْتِيلًا﴾ [الأحزاب: 60-61] ژباړه :که منافقان، او هغه کسان چې په زړونو کې یې ناروغي ده، او هغه کسان چې په مدینه کې ارجاف (وېرې خپرونکي شایعات) خپروي، له دې کاره لاس وانخلي، نو موږ به تا پرې راوپارولو (یعنې ستا په وسیله به پرې اقدام وسي )، بیا به هغوی په دې ښار (مدینه) کې ستا تر څنگ ډېر پاتې نسي ، مگر لږ وخت (هغوی) ملعون دي، هر چیرې چې وموندل سي ، وبه نیول سي او په سخته توگه به ووژل سي . د "ارجاف"

اصل له "رَجْف" څخه دی، چي معنا يې حرکت (لړزه او خوځښت) دی، نو کله چي درواغجن خبر خپور سي ، نو هغه خلك په حرکت (اضطراب او ګډوډی) کي اچوي؛ له همدې امله دې ته "ارجاف" ويل کيږي.

امام ابن فورك په خپل تفسير کي وايي: رَجْفَه (لړزه) هغه ده چي ځمکه د پښنو لاندي وخوځيږي، او چت د خپلو خلکو لاندي ولړزيږي، چي دې ته رجف ويل کيږي، او دا هغه خبر ورکول دي چي خلك پرې بې له يقين څخه اضطراب او ګډوډي ته ولوېږي، او ارجاف دا هم دی چي باطل (ناسم او دروغ) خپاره سي تر څو خلك پرې غمجن او اندېښمن سي . ( ابن فورك ، ۱۴۳۰، ج ۱ ص ۱۲۱ ) او ابن أبي الدنيا په خپل کتاب الصمت کي له حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه څخه (موقوف روايت) نقل کوي چي هغه وفرمايل: هر هغه سړی چي د بل کس په اړه داسي خبره خپره کړي چي هغه ترې بې ګناه وي، يوازي د دې لپاره چي هغه بدنامه کړي، نو دا پر الله حق دی چي د قيامت په ورځ به هغه د همدې (خبري) له امله اور ته نږدې کړي.

## دجعلي خبرونو خپرول شرعي حکم

جعلي خبرونه خپرول حرام دي ځکه چي جعلي خبرونه دروغ وي او دروغ شرعاً ګناه کبيره ده (خطيب، ب ت، ج ۱۱ص ۵۳۸۵) الله تعالی فرمايي: ﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي مَنْ هُوَ كَاذِبٌ كَفَّارٌ ﴾ [الزمر: 3]، ژباړه: ﴿ بېشکه الله هغه چا ته سمه لار نه ښيي چي دروغجن او ډېر ناشکره وي ﴾ او محمد صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «لوی خيانت دا دی چي ته خپل ورور ته داسي خبره وکړې چي هغه پر تا باور کوي، خو ته پکي دروغ وايې.» (أبو داود، ۱۳۲۳، ج ۴ص ۲۹۳)د حضرت علي بن أبي طالب رضي الله عنه دا وينا ده: تر ټولو لويه ګناه د الله تعالی په نزد دروغجنه ژبه ده، او تر ټولو بده پښېماني د قيامت د ورځي پښېماني ده: يعني دروغ ويل ډېره ستره ګناه ده، او انسان به تر ټولو زيات هغه وخت افسوس کوي کله چي د قيامت په ورځ د خپلو بدو کارونو پايله ويني. (الغزالي، ب ت، ج۳ص ۱۳۶) او همدارنګه په ډېرو جعلي خبرونوکي بهتان وي او بهتان داسي دروغ وي چي پر چا بې‌اساس تور ولګول سي او هغه کس له حيرانتيا سره مخ سي ، اوحکم د بهتان ګناه کبيره ده( خطيب، ب ت، ج۹ص ۴۱۰۸).او يا جعلي خبرونه ډېر وخت افتراء وي افتراء: هغه دروغ دي چي د بل چا په اړه داسي څه وويل سي چي هغه پرې راضي نه وي(السقاف، ب، ت، ج۲ ص ۱۲۲).او يا به جعلي خبرونه هغسي وي چي د يو کس په غيبت پکي بيان سوی وي اوپه حکم دغيبت کي هيڅ شك نشته چي په اجماع دمسلمانانو حرام دی.

دغيبت تعريف: غيبت دا دی چي د يو انسان يادونه په هغه څه سره وسي چي هغه يې بد ګڼي (نه يې خوښوي)، که هغه د هغه د بدن په اړه وي، يا د هغه د دين په اړه، يا د هغه د دنيا (دنيوي چارو) په اړه، يا د هغه د نفس (شخصيت) په اړه، يا د هغه د ظاهري جوړښت (خلقه) په اړه، يا د هغه د اخلاقو (خُلق) په اړه، يا د هغه د مال په اړه، يا د هغه د اولاد په اړه، يا د هغه د مېرمنې په اړه، يا د هغه د خادم (نوکر)

په اړه، یا د هغه د جامو په اړه، یا د هغه د حرکت په اړه، یا د هغه د خوشحالی (خندا/خوش طبعی) په اړه، یا د هغه د تریو تندي (عبوست) په اړه، یا له دې پرته بل هر هغه څه چې ورسره تړاو لري؛ که ته دا خبره په لفظ (خبرو) سره کوې، او که په اشاره او رمز سره. (القحطاني، ۱۴۳۱، ص ۱۰)

او همدارنګه جعلي خبرونه دوکه ده او دوکه په اسلامي حرامه ده او علماوو ګناه کبیره ګڼلي ده.( خطیب، ب ت، ج۱۱ ص ۵۹۷۰) او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: «مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا» (ترمذي، ۱۹۹۶م، ج۲ص ۵۸۲ ) ژباړه:«څوک چې فریب یا دوکه وکړي، له موږ څخه نه دی.

**په اسلام کې د طنزي خبرونو شرعي حکم**

په طنزي خبرونو کې درواغ هم ویل حرام دي، په الموسوعة کې وايي: الكذب في المزاح حرام كالكذب في غيره. (الموسوعة الفقهية، ۱۴۰۴، ج۳۴،ص ۲۰۸) ژباړه: په ټوکو کې دروغ ویل حرام دي، لکه څنګه چې په نورو حالاتو کې دروغ حرام دي." یعني: په اسلام کې درواغ ویل که قصدي وي او که په مزا ح (ټوکه) کې، دواړه حالاتو کې ناجایز او حرام دي. لقوله صلى الله عليه وسلم: لا يؤمن العبد الإيمان كله حتى يترك الكذب من المزاحة، ويترك المراء وإن كان صادقا [أخرجه أحمد (2 / 352 - 353) من حديث أبي هريرة] ژباړه "د رسول الله ﷺ د وینا له مخې : بنده بشپړ ایمان ته نه رسېږي، تر څو چې په ټوکو کې دروغ پرېنږدي، او شخړه (بې ځایه بحث) پرېنږدي، که څه هم رښتیا ویونکی وي."

وقوله صلى الله عليه وسلم: إني لأمزح ولا أقول إلا حقا (حديث: "إني لأمزح ولا أقول إلا حقا ". أورده الهيثمي في مجمع الزوائد (9 / 16) وقال: رواه الطبراني في الأوسط، وإسناده حسن.) ژباړه: "او د رسول الله ﷺ وینا ده: بېشکه زه مزاح (ټوکه)کوم، خو له حق پرته بل څه نه وایم. نو معلومه سوه چې درواغ ویل په طنزي خبرونو کې ویل حرام دي

**دروغ ویلو حکم د اسلام له نظره**

امام نوي رحمه الله وايي: چې درواغ ویل په قرأن او حدیث او په اجماع دامت سره حرام او ګناه کبیره ده او دا د بدو ګناهونو له جملې څخه ده او دانسان بدو عیبونو څخه یو عیب دی، او د دروغو د نه ویلو لپاره بس ده چې د صحیحیّت له مخې د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت سوی حدیث را یاد کړو،( آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلاَثٌ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ)( بخاري، ۱۴۴۴، ج۱ ص۲۱) ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د منافق نښې درې دي:کله چې خبري کوي، دروغ وايي؛ کله چې وعده ورکوي، وفا نه کوي؛ او کله چې امانت ورکړل سي ، خیانت کوي

په قرأن کریم کې د دروغو د ویل څخه د مخنیوي لپاره خبرداری ورکړی سوی دی. الله تعالی فرمايي( وَلاَ تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْؤُولاً) ژباړه: هغه څه مه تعقیبه وه چې پرې علم نه لرئ، ځکه چې ستاسو اوریدنه، لیدنه او زړه (فهم) ټول د دې خبرو په اړه مسؤل دي.

اوحديث کي راځي: (وإن الكذب يهدي إلى الفجور، وإن الفجور يهدي إلى النار، وإن الرجل ليكذب حتى يكتب عند الله كذّاباً) (بخاري، ۱۴۴۴، ج۵ ص ۲۲۶۱) او بېشکه دروغ ویل د فحشاء/بدکارۍ لور ته لار هواروي، او بېشکه فحشاء/بدکاري د اور (دوزخ) لور ته لار هواروي، او بېشکه يو سړی دومره دروغ وايي چي الله (جل جلاله) سره د دروغجن په توګه نوشته کيږي.

**د اوازو(جعلي خبرونو )جوړوني د جوازصورت:**

په اسلام کي د افوا خپرولو په اړه چي کومه سزا ذکر سوې ده، يا په هر لحاظ چي د هغو غندنه سوې ده، له هغې څخه هغه افواوې مستثنا دي چي د جګړې په ډګر کي خپرې سي . په عمومي ډول داسي افواوې د دښمن د قدمونو د کمزورې کولو لپاره خپرېږي، او همدې ته بل نوم "نفسیاتي جګړه" ویل کیږي. دا په حقیقت کي دفاعي جګړه ده، او په اسلام کي دغه ډول کړنه د الله په لار کي جهاد (جهاد فی سبیل الله) کي شمېرل سوې ده.

د دې تعریف په اړه عبدالهادي زبدي ليکي:

"له دې څخه مراد هغه اقدامات او عملیات دي چي پرته له دې چي په رښتيني جګړه کي شامل سي ، د دښمن د کمزوري کولو لپاره يا د هغه د دښمنانه رواني اقداماتو د مخنيوي لپاره کارول کيږي. الزيدي، ۲۰۱۰، ص ٦٧)

د دښمن د رواني جګړې د مقابلې لپاره پر مسلمانانو هم رواني مبارزه لازمه ده، ځکه چي د مسلمانانو پر ضد دا جګړه د رسنيو، سياسي چلونو او اقتصادي فشارونو له لارې روانه ده.

په دې اړه د حضرت نعيم بن مسعود رضی الله عنه یوه مهمه پېښه شته. کله چي هغه اسلام قبول کړ، نو ويې ویل:

ای د الله رسوله صلاى الله عليه وسلم! زه مسلمان سوی يم، خو زما قوم لا تر اوسه زما له اسلام راوړلو خبر نه دی، نو تاسو ماته څه حکم کوئ؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل:ته يوازي يو کس يې، نو لوی پوځي اقدام نسي کولی، خو څومره چي دې وس رسي، د هغوی ترمنځ اختلاف واچوه او د هغوی حوصله کمزورې کړه، ځکه جګړه په اصل کي د تدبير، چل او حکمت نوم دی. (ابن هشام، ب ت، ج۳ص ۷۱۲)

د نعيم بن مسعود رضی الله عنه د دې پېښې له مطالعې څخه څرګنديږي چي هغه د قريشو، غطفان او د بنو قريظه يهودو ترمنځ داسي خبري خپرې کړې چي د هغوی ترمنځ بې‌باوري پيدا شوه. د دې کار پايله دا سوه چي د هغوی په ليکو کي اختلاف رامنځته سو او يو پر بل بدګمان شول. په همدې سبب الله تعالی مسلمانانو ته بريا ورپه برخه کړه.

د دې پېښې په اړه احمد نوفل ليکي چي:

د احزاب په غزا کې د افواه خپرولو کار د مسلمانانو له لوري یو ډېر مهم رول ادا کړ، او د دې څرګنده بېلګه د نعیم بن مسعود رضی الله عنه په خبرو او چلند کې لیدل کېدای سي . (أحمد نوفل، ۱۹۸۷، ص ۵۰)

هغه اقدامات چې اسلامي شریعت د اوازو (جعلي خبرونو) د مخنیوي لپاره ټاکلي دي له همدې ټولو څخه، اسلام د اوازو د خپرېدو د مخنیوي لپاره د هغو سرچینې وچې کړې؛ نو شریعت مسلمانان دې ته اړ کړي دي چې د خبرونو په اړه د حکم کولو نه مخکې تحقیق او تثبّت وکړي؛ الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَى مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ سورة حجرات (٦)﴾ ژباړه: ای هغو کسانو چې ایمان مو راوړی دی! که تاسو ته یو فاسق کس کوم خبر راوړي، نو تحقیق وکړئ (ښه یې وڅېړئ)، هسې نه چې تاسو کوم قوم ته د ناپوهۍ له مخې زیان ورسوئ، بیا به تاسو پر هغه څه چې کړي مو دي پښېمانه سئ .

**او امام بخاري رحمه الله** په خپل صحیح بخاري کې یو باب د «په جګړه کې د دروغ ویلو جواز» تر عنوان لاندي راوړی دی، او د رسول الله ﷺ په دې حدیث یې استدلال کړی دی: رسول الله ﷺ وفرمایل: «څوک به د کعب بن اشرف کار تمام کړي؟ ځکه هغه الله او د هغه رسول ته اذیت رسولی دی.» محمد بن مسلمه رضی الله عنه وویل: «ای د الله رسوله! آیا خوښوئ چې هغه ووژنم؟» رسول الله ﷺ وفرمایل: «هو.» محمد بن مسلمه رضی الله عنه د کعب بن اشرف خواته ولاړ او ورته یې وویل: «دا سړی (یعني رسول الله ﷺ) موږ په سختۍ کې اچولي یو او له موږ څخه صدقه غواړي.» کعب وویل: «په الله قسم! لا به نورې سختۍ هم ووینئ.» محمد بن مسلمه وویل: «موږ د هغه پیروي کړې ده، نو نه غواړو هغه پرېږدو تر څو ووینو چې د هغه د کار پایله څه کیږي.» هغه همداسي خبري ورسره کولې، تر دې چې پرې یې باور پیدا کړ، بیا یې هغه وواژه. په بل روایت کې راغلي چې محمد بن مسلمه رضی الله عنه وویل: «اجازه راکړئ چې (د دې مقصد لپاره) ځیني خبري وکړم.» رسول الله ﷺ وفرمایل: «اجازه مې درکړه.» (البخاري، ۱۴۱۴هـ، ج۴، ص٦۴). امام شوکاني رحمه الله وایي: دا حدیث د دې دلیل دی چې په جګړه کې د دښمن د دوکې لپاره دروغ ویل روا دي، او همدې دلیل ته په پام سره امام بخاري هم د «په جګړه کې د دروغ ویلو» باب جوړ کړی دی. (الشوکاني، ۱۴۱۳هـ، ج۷، ص۳۰۲). امام نووي رحمه الله وایي: علماوو په دې اتفاق کړی چې په جګړه کې د کفارو دوکه کول په هره ممکنه طریقه روا دي، خو که په دې کې د کوم تړون یا امان ماتول وي، بیا حرام دي. همدارنګه په صحیح حدیث کې راغلي چې په دریو ځایونو کې دروغ ویل روا دي، چې یو یې جګړه ده. البته غوره دا ده چې که امکان وي، د څرګندو دروغو پر ځای اشاري او مبهمي خبري وکارول سي . (النووي، ۱۳۹۲هـ، ج۱۲، ص۴۵).

ابن الملقن رحمه الله وایي: دا حدیث د دې دلیل دی چې په جګړه کې د دښمن د دوکې لپاره دروغ ویل روا دي، ځکه په جګړه کې دا ډول خبري او تدبیر کول جایز دي. (ابن الملقن، ۱۴۲۹هـ، ج۲۱،

ص۱۳۲). امام زمخشري رحمه الله وايي: انسان ته نه دي پکار چي هر ډول گمان او شک ته ژر باور وکړي او پرې عمل وکړي، ځکه ځيني گمانونه غلط وي او انسان گناه ته وړي. الله تعالی ځيني گمانونه حرام کړي، خو په تفصيل يې ټول نه دي بيان کړي، تر څو خلک په احتياط کې پاتې سي او بې‌پروا نه سي . (الزمخشري، ۱۴۰۷، ج۴ص ۳۷۱)

نو موږ ټولو ته په کار ده چي لاندي لارښووني په نظر کي ولرو:

- بې له فکره او تحقيق څخه په گمان پسې ولاړ نه سي
- مخکي له دې چي يو څه ومني، ښه سوچ او غور وکړي
- د حق او باطل ترمنځ فرق وکړي
- او تل د تقوا (له الله څخه وېرې) او احتياط احساس ولري

د دې لپاره چي خپل ځان وساتو او خپل ټولنه خوندي کړو، بايد لاندي سپارښتني تعقيب کړو

۱.هر هغه خبر مه منئ چي په فېسبوک کې يې سرچينه نه وي ذکر سوې. ۲.هغه خبر مه خپروئ چي تاسي په ډاډه نه ياست. ۳.د خبر په اړه پلټنه وکړئ او د خپرولو مخکي يې د صحت يقيني کول.۴.که تاسي ډاډه ياست چي خبر جعلي دی، نو د هغه د خپرېدو راپور ورکړئ.د خلکو ترمنځ د دې ډول خبرونو په اړه د پوهاوي کچه لوړه کړئ، د پوهاوي او خبرتيا ورکولو د کمپاينونو له لاري . ۴.د ديني چارو او اوقافو وزارت بايد مهم رول ولري، د مسجدونو، تلويزيوني چينلونو او ويبپاڼو له لاري خلکو ته د جعلي خبرونو په اړه پوهاوی ورکړي.۵.په فېسبوک کې د جعلي خبرونو پر ضد پاڼې جوړول، چي خلکو ته حقايق څرگند کړي او جعلي خبرونه رد کړي، وروسته له دې چي شواهد او دلايل راټول سي .

۵.د ټولنيز مسؤليت احساس کول، که د جعلي خبر خپروونکی وي او که د هغه مصرفوونکی، تر څو د دې ډول خبرونو د خپرېدو مخه ونيول سي .

۶.داسي قوانين صادرول چي دا ډول غير اخلاقي کړنې منع کړي، تر څو د هغوی خپرېدل کم سي او پر ټولنه او دولت يې منفي اغېزي مخه ونيول سي .

**پايله**

په دې څېړنه کي د جعلي خبرونو تعريف، عوامل، اغېزي او شرعي حکم وڅېړل شول. د دې څېړني له مخي معلومه سوه چي جعلي خبرونه د ټولنيزو رسنيو، عاطفي او سياسي لاملونو له امله په تيزي سره نشر کيري او پر ټولنه بد تاثير کوي. همدغه شان ښکاره سوه چي اسلام د دروغو او شائعاتو له خپرولو منع کړي او مسلمانانو ته يې د هر خبر منلو او نشر کولو مخکي د تحقيق او پوره معلوماتو کولو لارښوونه کړي ده، په دې څېړنه کي داهم معلومه او ښکاره سوه چي په ځينو استثنايي(جهادي) حالاتو کي، د جعلي خبرونو خپرولوته اجازه ورکړې ده، چي حکم يې له عادي حالاتو سره فرق لري. د جعلي خبرونو د مخنيوي لپاره ضروري دی، چي هرڅوک دهغه خبر له نشرکولو مخکي د هغه رښتنولي وڅېړي. په

پای کې وړاندیز کیږي چې د دې موضوع په اړه نور څیړنې هم وسي ، په ځانګړې ډول د جعلي خبرونو د مخنیوي د عملي لارو په اړه.

**وړاندیزونه**

د دې څیړنې د موندنو پر بنسټ، لاندې وړاندیزونه د جعلي خبرونو د مخنیوي او اغېزو د کمولو لپاره وړاندې کیږي:

۱. عامو خلکو ته دې د معلوماتو د کره‌والي د ارزونې او د خبر د تصدیق کولو په اړه پوهاوی ورکړل سي ، تر څو بې له تحقیقه خبرونه خپاره نه کړي.

۲. تعلیمي بنسټونه دې د رسنیز سواد (پروګرامونه پیاوړې کړي، څو زده کوونکي د جعلي خبرونو د پېژندنې وړتیا ترلاسه کړي.

۳. رسنۍ او ټولنیزې شبکې دې د جعلي خبرونو د مخنیوي لپاره قوي پالیسۍ او څارنیز میکانیزمونه رامنځته کړي.

۴. دیني عالمان دې د منبرو او درسونو له لارې د دروغو او شایعاتو د خپرولو د حرمت او زیانونو په اړه عامه پوهاوی زیات کړي.

۵. حکومت او اړوند ادارې دې د جعلي خبرونو د خپرولو پر وړاندې قانوني اقدامات او مشخص چوکاټونه جوړ کړي.

۶. خلک دې وهڅول سي چې د احساساتو پر ځای د عقل او تحقیق پر بنسټ پرېکړې وکړي او هر خبر له باور وړ سرچینو څخه وڅېړي.

**اخځلیکونه**


القرآن الكريم

ابن كثير، ۱۴۲۰هج اسماعيل بن عمر ج ۳ص ۳۹۷ السعودية : دار الطيبة للنشر والتوزيع

ابن فورك ، ۱۴۳۰، محمد بن حسن، تفسير ابن فورك، المملكة السعودية : جامعة أم القرى

بخاري، محمد بن اسماعيل، ۱۴۴۴، صحيح البخاري، دمشق: دار ابن كثير، دار اليمامه

ترمذي،محمد بن عيسى، ۱۹۹۶م، سنن الترمذي ، بيروت: دار الغرب الاسلامي

المنذري، ۱۴۱۷، عبد العظيم المنذري، الترغيب والترهيب، بيروت: دار الكتب العلمية.

البيضاوي، ناصر الدين عبد الرحمن (بدون تاريخ). أنوار التنزيل وأسرار التأويل (الجزء 4، ص 102). دار إحياء التراث العربي.

ابو داود، (۱۳۲۳) سليمان بن أشعث، سنن أبي داود، بيروت: المكتبة العصرية، صيدا

غزالي (ب،ت) محمد بن محمد، احياء العلوم الدين، بيروت: دار المعرفة

خطيب،( ب،ت) صالح بن عبد الله، نضرة النعيم في مكارم الاخلاق الرسول الكريم، جدة: دار الوسيلة للنشر والتوزيع

السقاف، (ب ت) علوي بن عبد القادر، موسوعة الأخلاق الاسلامية، الناشر: موقع الدرر السنية على الانترنيت

القحطاني،( ۱۴۳۱) سعيد بن علي، آفات اللسان في ضوء الكتاب والسنة، الرياض: مطبعه سفير

ابن كثير،( ۱۴۲۰هج) اسماعيل بن عمر تفسير ابن كثيرج ۳ص ۳۹۷ السعودية : دار الطية للنشر والتوزيع

الزيدي، عبد الهادي محمود، (۲۰۱۰) الحرب النفسية مفاهيم اعلامية و أحكام فقهية، بيروت: دار الفجر للطباعة والنشر

الزمخشري ، محمود ابن عمر، (۱۴۰۷) تفسير الكشاف، بيروت: دار الكتاب العربي.

ابن هشام، عبد الملك بن هشام، (ب،ت) السيرة النبوية لابن هشام، القاهرة: مكتبة الكليات الأزهرية

وزارة الاوقاف والسئ ون الاسلاميه، ۱۴۲۷، الموسوعة الفقهية، ج۳۴،ص ۲۰۸ ، مصر: دار الصفوة.

(إبن الملقن، ۱۴۲۹، سراج الدين أبوحفص، التوضيح لشرح الجامع الصحيح، دمشق: دار النوادر.

النووي، ۱۳۹۲، أبوزكريا محيي الدين، شرح النووي على المسلم، ج۱۲ ص ۴۵، بيروت: دار احياء التراث العربي.

(الشوكاني، ۱۴۱۳، محمد بن علي، نيل الأوطار شرح المنتقى الأخبار، ج ۷ ص ۳۰۲، مصر: دار الحديث.

نوفل، أحمد نوفل، ( ۱۹۸۷) الاشاعة، بيروت: دار الفرقان

السهيلي، أبو عبد الرحمن، ۲۴۲۱، الروض الأنف في شرح سيرة ابن هشام، بيروت: دار احياء التراث العربي

( داسة، بدردين (۲۰۲۳) آليات التحقق من الأخبار الكاذبة والصور المزيفة في غرفة الأخبار: مقاربة نظرية، مجلة مصداقية، المجلد ۵، العدد ۲ الجزاير، ص ۱۸.) https://search.emarefa.net/detail/BIM-1581738

مكاوي، ډاكتر،ممدوح عبدالله. (2020). الأخبار الزائفة " Fake Newsبين الإعلام التقليدي والرقمي: دراسة نقدية تحليلية لعينة من البحوث في الفترة من 2016–2020. مجلة مصداقية، 5(2)، 237–255.

(الحربي، نصررمضان سعد الله.(2021). نشر الشائعات عبر مواقع وشبكات التواصل الاجتماعي آثارها -المسئ المترتبة عليها - سبل التصدي لها: دراسة مقارنة. مجلة كلية الدراسات الإسلامية والعربية للبنات بالإسكندرية، المجلد ٦، شميره ۳۷. عددصفحات ۴۰ جامعة الأزهر -كلية الدراسات الإسلامية والعربية للبنات.) https://law.tanta.edu.eg/faculty_conference/files/

مانوئل آریاس مالدونادو. (۲۰۱۹). اندرستاندنګ فیک نیوز: ټکنالوجي، افکټس، اینډ د پولیټیکس آف د انټروټه. هیستوري وای کومونیکیشن سوشل, ۲۴(۲), ۵۳۳–۵۴۶. https://dx.doi.org/10.5209/hics.66298

بوطمين، ع.، & جربوعة، ع. (2021). الأخبار الزائفة والحراك الشعبي في الجزائر: Fake news and the popular mobility in Algeria. مجلة العلوم الاجتماعية والإنسانية، 25(54). د آنلاين خپرېدو نېټه: 30 جنوري 2021. https://asjp.cerist.dz/en/downArticle/90/25/2/144718

قاتلية، ز.، ستي، ز.، & رمضاني، ا. (2022). دور الاتصال المؤسسي في مواجهة الأخبار الكاذبة في البيئة الرقمية – أزمة كورونا Covid19 نموذجا ( Master's thesis, جامعة 8 ماي 1945, كلية العلوم الإنسانية والاجتماعية, الجزائر)

https://bucket.theses-algerie.com/files/repositories-dz/3105709469783334.pdf

سلمان، هـ. س. (2022). The role of the Lebanese newspaper An-Nahar in checking the fake news: An analytical study. Journal of Tikrit University for Humanities, 29(6), 343–362. http://dx.doi.org/10.25130/jtuh.29.6.2022.17

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Academic Journal

**Volume:3 Issue: 1 Year:1405**